Te Aka Matua o te Ture
Law Commission

# Hara Ngākau Kino | د کرکې د جرم بیاکتنه

**د واک ساحه**

## پروژې ته بیاکتنه

Te Aka Matua o te Ture | د قانون کمیسیون به په آوتیروآ (Aotearoa) نیوزیلنډ کې د نفرت جرمونو پورې اړوند قانون بیاکتنه وکړي، په دې تمرکز سره چې آیا قانون باید بدل شي ترڅو نوي د نفرت څخه هڅول شوي جرمونه رامینځته کړي. د دې بیاکتنې هدف لپاره، "د نفرت جرم" هغه چلند ته ویل کیږي چې دمخه د نیوزیلنډ قانون لاندې یو جنایي جرم دی او سربیره پردې، د خلکو یوې ډلې په وړاندې د نفرت یا دښمنۍ له امله ترسره کیږي چې یوه ګډه ځانګړتیا لري (لکه نژاد، رنګ، ملیت، مذهب، جنسیت یا جنس، جنسیتي هویت، جنسي تمایل، عمر یا معیوبیت).

اوس مهال، په آوتیروآ نیوزیلنډ کې قانون د نفرت جرمونو ته په سزا ورکولو کې ځواب ورکوي. که یو کس د خلکو یوې ډلې په وړاندې د دښمنۍ له امله یو جرم ترسره کړي چې یوه "دوامداره ګډه ځانګړتیا" لري، محکمه باید دا د سزا ورکولو په وخت کې د سختولو فکتور په توګه په پام کې ونیسي (د سزا ورکولو قانون 2002 د 9(1)(h) برخه وګورئ).

د 2019 کال د مارچ په 15 نیټه په کرایسټ چرچ کې په مسجدونو باندې د تروریستي برید په اړه د شاهي کمیسیون د تحقیق راپور د نوي نفرت څخه هڅول شوي جرمونو رامینځته کولو وړاندیز وکړ. په ځانګړې توګه، 39 شمېره سپارښتنې وړاندیز وکړ چې په لاندې برخو کې دې نوي د نفرت څخه هڅول شوي جرمونه رامینځته شي:

(a) د لنډیز جرمونو قانون 1981 (د موجوده جرمونو سره سم لکه د سپکاوی چلند یا ژبه، برید، قصدي زیان او ډارول)؛ او

(b) د جرمونو قانون 1961 (د موجوده جرمونو سره سم لکه بریدونه، اور اچول او قصدي زیان).

## د بیاکتنې کاري ساحه

د قانون د کمیسیون په بیاکتنه کې به لاندې موارد شامل وي اما په دې مواردو سره به محدوده نه شي:

(a) آیا په آوتیروآ نیوزیلنډ کې موجوده قانون په کافي اندازه د نفرت جرمونو ته ځواب ورکوي (په ځانګړې توګه د سزا ورکولو قانون 2002 د 9(1)(h) برخه، چې د دښمنۍ انګېزې په پام کې نیولو ته اړتیا لري کله چې مجرم ته سزا ورکول کیږي).

(b) آیا د موجوده قانون د عملیاتو په اړه کومې اندیښنې باید د قانوني (یا عملیاتي) اقداماتو له لارې حل شي، د بیلګې په توګه، د نفرت څخه هڅول شوو جرمونو رامنځ ته کول.

(c) که چېرې د نفرت څخه هڅول شوي جرمونه رامینځته شي:

(i) له کومو موجوده جرمونو سره باید سمون ولري؛

(ii) کومې ګډې ځانګړتیاوې باید پوښښ کړي؛

(iii) د جرمونو د نفرت یا دښمنۍ عنصر څنګه باید ثابت شي؛

(iv) کومې اعظمي سزاګانې مناسبې دي؛ او

(v) آیا د سزا ورکولو قانون کې کوم بدلونونه د نوي جرمونو په پام کې نیولو او د نفرت جرمونو مجرمینو ته د مناسبې سزا ورکولو لپاره مطلوب دي.

د اصلاحاتو لپاره د سپارښتنو په جوړولو کې، د قانون کمیسیون به te ao Māori په پام کې ونیسي او د نیوزیلنډ ټولنې کلتوري ځانګړتیاوو ته به پاملرنه وکړي.

بیاکتنه به هغه چلندونه چې اوس مهال د نیوزیلنډ قانون لاندې جرم نه ګڼل کیږي، جرم نه ګڼي. د شک د مخنیوي لپاره، بیاکتنه به د 2019 کال د مارچ په 15 نیټه په کرایسټ چرچ کې په مسجدونو باندې ترووریستي برید په اړه د شاهي کمیسیون د تحقیق راپور سپارښتنې 40 او 41 په پام کې ونه نیسي، چې په لاندې برخو پورې اړه لري:

(a) د نفرت وینا پورې اړوند قانون، په شمول د 1993 کال د بشري حقونو قانون 61 او 131 برخې؛ او

(b) د فلمونو، ویډیوګانو، او خپرونو د طبقه بندۍ قانون 1993 د 3 برخې کې د "اعتراض وړ" خپرونې تعریف.

**وخت او پروسه**

د قانون کمیسیون په پام کې لري چې عامه توګه د 2025 کال پیل کې مشورې وکړي.

د قانون کمیسیون په پام کې لري چې د 2026 تر نیمایي پورې د خپلو وړاندیزونو سره د قانون کمیسیون مسئول وزیر ته راپور ورکړي.

**د قانون د کمیسیون په هکله**

د قانون کمیسیون یوه خپلواکه کراون اداره ده چې حکومت ته د قانون اصلاحاتو مشورې ورکوي. حکومت زموږ د کار ترسره کولو یا زموږ د سپارښتنو په اړه لارښوونه نه کوي.

موږ څیړنه او مشارکتي چارې ترسره کوو، او بیا حکومت ته د قانون د اصلاح او بهبود په هکله سپارښتنې کوو. دا سپارښتنې په یو راپور کې د عدلیې وزیر ته خپریږي. وزیر باید زموږ راپور پارلمان ته وړاندې کړي.

حکومت پریکړه کوي چې آیا او څنګه به قانون بدل کړي. تاسو کولی شئ د قانون کمیسیون په ویب پاڼه کې زموږ د کار په اړه نور معلومات ترلاسه کړئ.